

د افغانستان اسلامي امارت
د عدليې وزارت



فوق العاده ګڼه

د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد کمېســـيون او د اړوندې اختصاصي مـــحکمې د فيصلې د تطبيق طرزالعمل

طرزالعمـــــل تطبيق فيصلهٔ کمـــيسيون جلوگيری از غصب زمين ها و استرداد زمـــين های غصب شـــدهٔ امـــــارتی و محکمـــــهٔ اختصاصی مـــــربوط

د خپرېدو نېټه: د ۱۴۴۷ هــ.ق کال د ربيع الاول د مياشتې (۱۳)
د ۱۴۰۴ هــ.ش کال د وږي د مياشـــتې (۱۵)
پرله پسې نمبر (۱۴۷۶)

تاريخ نشر: (۱۳) ربيع الاول سال ۱۴۴۷ هــ.ق
(۱۵) سنبله سال ۱۴۰۴ هــ.ش
نمبر مسلسل (۱۴۷۶)

په دې ګڼه کې لاندې تقنيني سند چاپ شوی دی:

د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد کمپسيون او د اړوندې اختصاصي محکمې د فيصلې د تطبيق طرزالعمل (۱–۳۸) مخه.

د امتياز خاوند:	د عدليې وزارت
مسئول چلوونکی:	مولوي محمد افضل (احمد) ۰۷۷۳۲۶۲۰۲۸
مرستيال:	مولوي عبدالحق (صديقي) ۰۷۶۷۶۸۰۴۶۱
مدير: محمد جان رسولي:	۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰
وېب سايټ:	www.moj.gov.af

قيمت اين شماره (به اساس قرارداد): (۳۰) افغانی

تيراژ چاپ: (۱۰۰۰۰) جلد

تعداد صفحات بشمول پشتی: (۴۲) صفحه

مطبعه چاپ کننده: (بهير)

آدرس: وزارت عدليه، رياست نشرات و ارتباط عامه، ناحيه ششم – غرب قصر دارالامان.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمد لله رب العٰلمين والصلٰوة والسلام على سيد المرسلين و على آله واصحابه اجمعين.

د ځمـــکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون او د اړوندې اختصاصي محکـــمې د فيصلې د تطبيق د طرزالعمل د منظورۍ په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى فرمان

فرمان عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى در مورد منظـــورى طرزالعمل تطبيق فيصلۀ كميسيون جلوگيرى از غصب زمين‌ها و استرداد زمين‌هاى غصب شدۀ امارتى و محكمۀ اختصاصى مربوط

گڼه: (۴)

نېټه: ۱۴۴۷/۲/۲۳ هـــ.ق

شماره: (۴)

تاريخ: ۱۴۴۷/۲/۲۳ هـــ.ق

لومړۍ ماده:

مادۀ اول:

د ځمکـــو لـــه غصـــب څخـــه د مخنيـــوي او د امـــارتي غصـــب شـــويو ځمکـــو د اســـترداد کمېسيون او د اړوندې اختصاصـــي محکمې د فيصلې د تطبيق طرزالعمل په (۱) مقدمـــه، (۲) بـــابونو، (۳) فصلونو او (۳۰) مـــادو کـــې

طرزالعمـــل تطبيـــق فيصـــلۀ كميســـيون جلـــوگيرى از غصـــب زمين‌هـــا و اســـترداد زمـــين‌هـــاى غصـــب شـــدۀ امـــارتى و محكمـــۀ اختصاصـــى مربـــوط را در (۱) مقدمـــه، (۲) بـــاب، (۳) فصـــل و (۳۰) مـــاده

منظوروم.

دوهمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د یاد طرزالعمل له متن سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

منظور می‌نمایم.

مادۀ دوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با متن طرزالعمل مذکور، در جریدۀ رسمی نشر گردد.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

فهرست مندرجات

طرزالعمل تطبیق فیصلهٔ کمیسیون جلوگیری از غصب زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصب شدهٔ امارتی و محکمهٔ اختصاصی مربوط

مقدمه

ماده	عنوان	صفحه
مادهٔ اول:	مراد از اصول	۷
مادهٔ دوم:	مرجع تطبیق	۷
مادهٔ سوم:	نام اختصاری	۸
مادهٔ چهارم:	نظارت	۹
مادهٔ پنجم:	مکلفیت مراجع امارتی	۹

باب اول

اجراآت هیئت تخنیکی

فصل اول

اجراآت مقدماتی هیئت تخنیکی

مادهٔ ششم:	آغاز تحقیقات املاکی	۱۰
مادهٔ هفتم:	جلب غاصب یا ذوالید غیر شرعی	۱۱
مادهٔ هشتم:	مسئولیت ضامن	۱۵
مادهٔ نهم:	تفهیم غاصب یا ذوالید غیر شرعی	۱۵
مادهٔ دهم:	عدم حضور غاصب یا ذوالید غیر شرعی	۱۸

مادۀ یازدهم: توقف تصرفات جدید غاصب یا ذوالید غیر شرعی بر زمین غصب شده..... ۱۹
مادۀ دوازدهم: تحت توقیف قرار دادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی..... ۱۹
مادۀ سیزدهم: تصرف مجدد بر زمین غصب شده باوجود توقف تصرفات غاصب یا ذوالید غیر شرعی.....۲۲

فصل دوم

اجراآت بعد از ارائه دوسیه به کمیسیون

مادۀ چهاردهم: ابلاغ فیصلۀ کمیسیون.....۲۳
مادۀ پانزدهم: تطبیق فیصلۀ کمیسیون.....۲۳
مادۀ شانزدهم: قناعت به فیصلۀ کمیسیون.....۲۵
مادۀ هفدهم: عدم قناعت به فیصلۀ کمیسیون.....۲۶
مادۀ هجدهم: تخلیه و تسلیمی.....۲۷
مادۀ نزدهم: غایب شدن غاصب یا ذوالید غیر شرعی در وقت تطبیق فیصلۀ کمیسیون.....۲۷

فصل سوم

تطبیق قرار و فیصلۀ محکمۀ اختصاصی

مادۀ بیستم: تطبیق قرار و فیصله.....۲۸
مادۀ بیست و یکم: تمرد از حکم محکمه.....۲۹
مادۀ بیست و دوم: غایب شدن غاصب یا ذوالید غیر شرعی در وقت تطبیق فیصلۀ محکمۀ اختصاصی.....۳۰

باب دوم

احکام متفرقه

مادۀ بیست و سوم: نهایی بودن فیصلۀ محکمۀ اختصاصی.....۳۰
مادۀ بیست و چهارم: عواقب مداخله در تطبیق فیصله.....۳۱
مادۀ بیست و پنجم: موارد تخطی.....۳۳
مادۀ بیست و ششم: موارد جرمی.....۳۴
مادۀ بیست و هفتم: ایجاد قطعۀ خاص.....۳۶
مادۀ بیست و هشتم: ارجحیت.....۳۷
مادۀ بیست و نهم: تعدیل یا لغو.....۳۷
مادۀ سی ام: انفاذ و نشر.....۳۸

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمد لله رب العٰلمين والصلٰوة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين.

د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون او د اړوندې اختصاصي محکمې د فيصلې د تطبيق طرزالعمل

د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسيون او د اړوندې اختصاصي محکمې د فيصلې د تطبيق طرزالعمل پر يوه مقدمه، دوو بابونو، درېيو فصلونو او دېرشو مادو باندې مشتمل دی.

مقدمه

مقدمه له اصولو څخه د مراد، د تطبيق مرجع، لنډ نوم، نظارت او د امارتي مراجعو د مکلفيت پر مادو باندې مشتمله ده.

طرزالعمل تطبيق فيصلهٔ کميسيون جلوگيری از غصب زمين‌ها و استرداد زمين‌های غصب شدهٔ امارتی و محکمهٔ اختصاصی مربوط

طرزالعمل تطبيق فيصلهٔ کميسيون جلوگيری از غصب زمين‌ها و استرداد زمين‌های غصب شدهٔ امارتی و محکمهٔ اختصاصی مربوط بر يک مقدمه، دو باب، سه فصل و سی ماده مشتمل می‌باشد.

مقدمه

مقدمه بر مواد مراد از اصول، مرجع تطبيق، نام اختصاری، نظارت و مکلفيت مراجع امارتی مشتمل می‌باشد.

له اصولو څخه مراد لومړی ماده:

په دې طرزالعمل کې له اصولو څخه مراد هغه اصول دي چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لهخوا تأیید یا توشیح شوي وي.

د تطبیق مرجع دوهمه ماده:

(۱) د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د امارتي غصب شویو ځمکو د استرداد کمیسیون د دې طرزالعمل د تطبیق مرجع دی.

(۲) د دې طرزالعمل د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت تخنیکي هیئتونه، د ځمکو له غصب څخه د مخنیوي او د امارتي غصب شویو ځمکو د استرداد کمیسیون تر اغیزې لاندې فعالیت کوي.

مراد از اصول مادۀ اول:

مراد از اصول در این طرزالعمل، اصولی است که از طرف عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تأیید یا توشیح شده باشد.

مرجع تطبیق مادۀ دوم:

(۱) کمیسیون جلوگیری از غصب زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصب شدۀ امارتی، مرجع تطبیق این طرزالعمل می‌باشد.

(۲) هیئت‌های تخنیکی تشخیص و تثبیت زمین‌های غصب شدۀ امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی به‌منظور تطبیق بهتر احکام این طرزالعمل، تحت اثر کمیسیون جلوگیری از غصب زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصب شدۀ امارتی فعالیت می‌نماید.

لنډ نوم

درپيمه ماده:

(۱) د ځمکو لـه غصـب څخـه د مخنيوي او د امارتي غصـب شـويو ځمکو د استرداد کمېسيون، لـه دې وروسته پـه دې طرزالعمـل کـې د کمېسيون په نوم يادېږي.

(۲) د سلطاني (امارتي)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو قضيو ته د رسيدګۍ اختصاصي محکمه، له دې وروسته پـه دې طرزالعمـل کـې د اختصاصي محکمې په نوم يادېږي.

(۳) د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي غصـب شـويو ځمکـو د تشخيص او تثبيت تخنيکي هيئتونه، له دې وروسته په دې طرزالعمل کـې د تخنيکي هيئت په نوم يادېږي.

(۴) د ځمکو لـه غصـب څخـه د مخنيوي او د امـارتي (حکـومتي)، عامه مرعی او وقفي غصـب شـويو ځمکو د استرداد د پوليسـو خاصـه قطعـه، لـه دې وروسـته پـه دې

نام اختصاری

مادۀ سوم:

(۱) کمیسیون جلوگیری از غصـب زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصـب شـدۀ امـارتی مـن‌بعـد در ایـن طرزالعمل، به نـام کمیسـیون یـاد می‌گردد.

(۲) محکمۀ اختصاصی رسیدگی بـه قضایای زمین‌های غصب شدۀ سلطانی (امارتی)، مرعی عامه و وقفی من‌بعـد در این طرزالعمل، به نـام محکمـۀ اختصاصی یاد می‌گردد.

(۳) هیئت‌های تخنیکی تشـخیص و تثبیت زمین‌های غصب شدۀ امـارتی (حکومتی)، مرعـی عامـه و وقفـی من‌بعد در این طرزالعمل، به نام هیئت تخنیکی یاد می‌گردد.

(۴) قطعۀ خاص پـولیس جلـوگیری از غصـب زمـین‌هـا و اسـترداد زمین‌هـای غصـب شـدۀ امـارتی (حکـومتی)، مرعـی عامـه و وقفی من‌بعد در این طرزالعمل، بـه

طرزالعمل کې د خاصې قطعې په نوم یادېږي.

نظارت

څلورمه ماده:

کمېسیون د دې طرزالعمل د حکمونو په تطبیق کې د تخنیکي هیئتونو، د پولیسو له خاصې قطعې او د نورو امارتي ادارو له اجراآتو څخه نظارت کوي.

د امارتي مراجعو مکلفیت

پنځمه ماده:

د کورنیو چارو او دفاع وزارتونه، د استخباراتو عمومي ریاست، والیان، ښاروالان، ولسوالان او نورې امارتي مراجع مکلفې دي، له کمېسیون او تخنیکي هیئت سره، د هغو د غوښتنې پراساس په اړونده ساحه کې هراړخیز اجراآت وکړي.

نام قطعهٔ خاص یاد می‌گردد.

نظارت

مادهٔ چهارم:

کمیسیون در تطبیق احکام این طرزالعمل، از اجراآت هیئت‌های تخنیکی، قطعهٔ خاص پولیس و سایر ادارات امارتی، نظارت می‌کند.

مکلفیت مراجع امارتی

مادهٔ پنجم:

وزارت‌های امور داخله و دفاع، ریاست عمومی استخبارات، والیان، شاروالان، ولسوالان و سایر مراجع امارتی مکلف اند، با کمیسیون و هیئت تخنیکی بر اساس درخواست آنها، در ساحهٔ مربوط اجراآت همه‌جانبه نمایند.

لومړی باب
د تخنيکي هيئت اجراآت

لومړی باب، په لاندې درېيو فصلونو مشتمل دی:

لومړی فصل: د تخنيکي هيئت مقدماتي اجراآت؛

دوهم فصل: کمېسيون ته د دوسيې له وړاندې کولو څخه وروسته اجراآت؛

درېيم فصل: د اختصاصي محکمې د قرار او فيصلې تطبيق.

لومړی فصل
د تخنيکي هيئت مقدماتي اجراآت
د املاکي تحقيقاتو پيل

شپږمه ماده:

تخنيکي هيئت د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو په برخه کې، د لاندې مواردو په رعايتولو سره املاکي تحقيقات پيلوي:

۱- د ځمکو له غصب څخه د

باب اول
اجراآت هیئت تخنیکی

باب اول بر سه فصل ذیل مشتمل می‌باشد:

فصل اول: اجراآت مقدماتی هیئت تخنیکی؛

فصل دوم: اجراآت بعد از ارائه دوسیه به کمیسیون؛

فصل سوم: تطبیق قرار و فیصلهٔ محکمهٔ اختصاصی.

فصل اول
اجراآت مقدماتی هیئت تخنیکی
آغاز تحقیقات املاکی

مادهٔ ششم:

هیئت تخنیکی در بخش زمین‌های غصب شدهٔ امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی با رعایت موارد ذیل، تحقیقات املاکی را آغاز می‌نماید:

۱- قانون جلوگیری از غصب

مخنيوي او د امارتي غصب شويو ځمکو د استرداد قانون چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۵/۲/۱۰ هـ.ق نېټې د (۲) ګڼې فرمان پراساس توشیح شوی دی.

۲- د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د استرداد کمېسیون د دندو او واکونو لایحه؛

۳- د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د غصب شويو ځمکو د تشخيص او تثبيت د تخنيکي هيئتونو طرزالعمل؛

۴- د کمېسیون هدایات؛

۵- د کمېسیون له‌خوا منظوره شوې د عمل طرحه (د عمل پلان).

د غاصب يا غيرشرعي ذواليد جلب

اوومه ماده:

(۱) تخنيکي هيئت مکلف دی، د دې طرزالعمل د شپږمې مادې د حکم په

زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصب شدهٔ امارتی که بر اساس فرمان شمارهٔ (۲) مؤرخ ۱۴۴۵/۲/۱۰ هـ.ق عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی توشیح شده است.

۲- لایحهٔ وظایف و صلاحیت‌های کمیسیون جلوگیری از غصب زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصب شده؛

۳- طرزالعمل هیئت‌های تخنیکی جلوگیری از غصب زمین‌ها و تشخیص و تثبیت زمین‌های غصب شده؛

۴- هدایات کمیسیون؛

۵- طرح عمل (پلان عمل) منظور شده از طرف کمیسیون.

جلب غاصب یا ذوالید غیر شرعی

مادهٔ هفتم:

(۱) هیئت تخنیکی مکلف است، با رعایت حکم مادهٔ ششم این

رعايتولو سره تر څېړنې لاندې ساحه کې د املاکي تحقيقاتو د ترسره کولو او د سندونو او مدارکو د غوښتلو په منظور، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي ځمکو غاصب يا غيرشرعي ذوالید يا د هغې ځمکې متصرف چې پر هغې باندې د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي‌والي غالب ګمان موجود وي، جلب کړي.

(۲) د تخنيکي هيئت سکرتريت مکلف دی، د اړوند ولايت د تخنيکي هيئت د رئيس د هدايت پراساس، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي ځمکو غاصب يا غيرشرعي ذوالید يا د هغې ځمکې متصرف چې پر هغې باندې د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي‌والي غالب ګمان موجود وي، د اړوند ولايت د امنيې قومندانۍ او يا د خاصې قطعې له لارې په رسمي ډول جلب کړي.

(۳) د جلب پاڼه په يو اصل او دوو نقلونو کې ترتيب او لاندې مراتب لري:

طرزالعمل، به‌منظور انجام تحقیقات املاکی در ساحهٔ تحت بررسی و مطالبهٔ اسناد و مدارک، غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین‌های امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی یا متصرف زمینی را که گمان غالب بر امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی بودن آن موجود باشد، جلب نماید.

(۲) سکرتریت هیئت تخنیکی مکلف است، بر اساس هدایت رئیس هیئت تخنیکی ولایت مربوط، غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین‌های امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی یا متصرف زمینی را که گمان غالب بر امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی بودن آن موجود باشد، از طریق قوماندانی امنیه و یا قطعهٔ خاص ولایت مربوط به‌طور رسمی جلب نماید.

(۳) ورق جلب در یک اصل و دو نقل ترتیب و دارای مراتب ذیل می‌باشد:

۱- د غاصب یا غیرشرعي ذوالیـــد شخص شهرت او پته؛

۲- د هغې مرجع نوم او پتـــه چـــې غاصب یا غیرشرعي ذوالید شـــخص، په هغه ځای کې په حاضـــر کېـــدو مکلف کېږي؛

۳- د موضوع معرفي؛

۴- د حضور نېټه او وخت؛

۵- د نه حضور له عواقبـــو څخـــه اخطار؛

٦- د دوو شـــاهدانو د شـــهرت او ګوتې د نښان یا د لاسلیک ځای.

(۴) د امنیې قومندانۍ یا خاصه قطعه مکلفه ده، د جلب پاڼه غاصـــب یـــا غیرشرعي ذوالید او یا یـــې عرفـــي نماینده ته د دوو شاهدانو په حضـــور کې تسلیم کړي، استحضـــاري او د هغه لاسلیک/د ګـــوتې نښـــان او د شاهدانو د ګوتې نښان یا لاسلیک په دوهم نقل کې واخلي او د تخنیکـــي هیئت سکرتریت ته یې واستوي.

(۵) که غاصب یا غیرشرعي ذوالیـــد غایب یا مفقود وي، د هغه د غیابـــت

۱- شهرت و آدرس شخص غاصب یا ذوالید غیر شرعی؛

۲- نـــام و آدرس مرجعـــی کـــه شخص غاصب یا ذوالید غیر شـــرعی به حاضرشـــدن در آنجـــا مکلـــف می‌شود؛

۳- معرفی موضوع؛

۴- تاریخ و وقت حضور؛

۵- اخطـــار از عواقـــب عـــدم حضور؛

٦- جای شهرت و نشان انگشت یا امضای دو شاهد.

(۴) قوماندانی امنیه یا قطعـــهٔ خـــاص مکلـــف اســـت، ورق جلـــب را در حضور دو شاهد به غاصب یا ذوالید غیر شرعی و یا نماینـــدهٔ عرفـــی وی تســـلیم نمایـــد، استحضـــاری و امضاء/نشان انگشت وی و نشـــان انگشت یا امضای شاهدان را در نقل دوم بگیرد و آنرا به سکرتریت هیئت تخنیکی ارسال نماید.

(۵) هرګـــاه غاصـــب یـــا ذوالیـــد غیر شرعی غایب یا مفقـــود باشـــد،

څرنګوالی د جلب په پاڼه کې درج او د اړوند تخنیکي هیئت سکرتریت ته لېږل کېږي.

(٦) غاصب یا غیرشرعي ذوالید مکلف دی، د تخنیکي هیئت د جلب پراساس، په مشخص شوې مرجع کې په ټاکلې نېټه او وخت حاضر شي او د تخنیکي هیئت پوښتنو ته ځواب ورکړي او د غوښتنې پرمهال په لاس کې شته سندونه وړاندې کړي.

(۷) که د جلب له امله، غاصب یا غیرشرعي ذوالید حاضر شي او د نوموړي د غیابت یا تېښتې احتمال موجود وي، د تخنیکي هیئت سکرتریت هغه د حاضرېدو د ضمانت په ورکولو سره مکلف کوي.

(۸) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید له استحضاري څخه وروسته اړوندې مرجع ته حاضر نه شي، د تخنیکي هیئت سکرتریت د یوې میاشتې په ترڅ کې د دوهم او درېیم ځل لپاره د هغه په جلب اقدام کوي.

چگونگی غیابت وی در ورق جلب درج و به سکرتریت هیئت تخنیکی ارسال می‌شود.

(٦) غاصب یا ذوالید غیر شرعی مکلف است، بر اساس جلب هیئت تخنیکی، در مرجع مشخص شده به تاریخ و وقت معین حاضر شود و به سوالات هیئت تخنیکی جواب بدهد و حین تقاضا، اسناد دست داشته را ارائه نماید.

(۷) هرگاه به سبب جلب، غاصب یا ذوالید غیر شرعی حاضر شود و احتمال غیابت یا فرار نامبرده موجود باشد، سکرتریت هیئت تخنیکی وی را به دادن ضمانت احضار مکلف می‌نماید.

(۸) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی بعد از استحضاری به مرجع مربوط حاضر نشود، سکرتریت هیئت تخنیکی در جریان یک‌ماه برای بار دوم و سوم به جلب وی اقدام می‌کند.

د ضامن مسئوليت

اتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د غاصب يا غيرشرعي ذوالید په احضار د تخنيکي هيئت سکرتريت ته ضمانت ورکړي، د غوښتنې پرمهال د هغه په حاضرولو مکلف دی.

(۲) که ضامن له شرعي عذر پرته د غاصب یا غیرشرعي ذوالید له حاضرولو څخه ډډه وکړي، د کمېسیون لهخوا اړوندې محکمې ته معرفي کېږي.

د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تفهیم

نهمه ماده:

(۱) تخنيکي هيئت مکلف دی، د غاصب یا غیرشرعي ذوالید له احضار وروسته، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غصب په موضوع په لیکلي ډول هغه پوه کړي او د تمسک وړ سندونه له هغه څخه وغواړي.

مسئولیت ضامن

مادۀ هشتم:

(۱) شخصی که به احضار غاصب یا ذوالید غیر شرعی به سکرتریت هیئت تخنیکی ضمانت بدهد، حین مطالبه، به حاضر نمودن وی مکلف می‌باشد.

(۲) هرگاه ضامن بدون عذر شرعی از حاضر کردن غاصب یا ذوالید غیر شرعی خودداری نماید، از طرف کمیسیون به محکمۀ مربوط معرفی می‌گردد.

تفهیم غاصب یا ذوالید غیر شرعی

مادۀ نهم:

(۱) هیئت تخنیکی مکلف است، بعد از احضار غاصب یا ذوالید غیر شرعی، وی را از موضوع غصب زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی به‌طور کتبی آگاه نماید و اسناد قابل تمسک را از وی مطالبه نماید.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوي حالت کې، غاصب يا غيرشرعي ذواليد مکلف دی، اړوند سندونه د غوښتنې له مودې څخه تر لسو کاري ورځو پورې، تخنيکي هيئت ته وړاندې کړي.

(۳) که غاصب يا غيرشرعي ذواليد د سندونو او د قناعت وړ ځواب له وړاندې کولو څخه ډډه، بهانه يا تعلل وکړي، تخنيکي هيئت دې هغه ته د لسو ورځو لپاره اضافي مهلت ورکړي.

(۴) که غاصب يا غيرشرعي ذواليد د دې مادې د (۲) فقرې په درج شوې موده او د دې مادې د (۳) فقرې په درج شوي مهلت کې بيا هم د سندونو او د قناعت وړ ځواب له وړاندې کولو څخه ډډه، بهانه يا تعلل وکړي، تخنيکي هيئت مکلف دی املاکي تحقيقات بشپړ او د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او يا وقفي ځمکې په توګه د هغې د تشخيص او تثبيت په صورت کې اړونده دوسيه

(۲) در حالت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، غاصب يا ذواليد غير شرعی مکلف است، اسناد مربوط را از زمان مطالبه تا ده روز کاری، به هيئت تخنيکی ارائه نمايد.

(۳) هرگاه غاصب يا ذواليد غير شرعی از ارائه اسناد و جواب قابل قناعت خودداری، بهانه يا تعلل ورزد، هيئت تخنيکی برای ده روز به وی مهلت اضافی بدهد.

(۴) هرگاه غاصب يا ذواليد غير شرعی در مدت مندرج فقرۀ (۲) اين ماده و در مهلت مندرج فقرۀ (۳) اين ماده باز هم از ارائه اسناد و جواب قابل قناعت خودداری، بهانه يا تعلل ورزد، هيئت تخنيکی مکلف است، تحقيقات املاکی را تکميل و در صورت تشخيص و تثبيت آن به عنوان زمين امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و يا وقفی، دوسيۀ مربوط را

ترتیب او د فیصلې په غرض دې کمېسیون ته وړاندې کړي.

(۵) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید د دې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې مودې او د دې مادې په (۳) فقره کې له درج شوي مهلت سره سره، پر متصرفه ځمکې باندې د خپل ملکیت د اثبات لپاره د اعتبار وړ سند له وړاندې کولو څخه عجز څرګند کړي، تخنیکي هیئت دې املاکي تحقیقات بشپړ او د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د تشخیص او تثبیت په صورت کې، اړونده دوسیه ترتیب او د فیصلې په غرض دې کمېسیون ته وړاندې کړي.

(٦) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید د متصرفه ځمکې د ملکیت سندونه وړاندې کړي خو د هغه له‌خوا په وړاندې کړای شویو سندونو کې شک، جعل او تزویر یا د جعل او تزویر شک موجود وي، تخنیکي هیئت دې د املاکي تحقیقاتو له

ترتیب و غرض فیصله به کمیسیون ارائه نماید.

(۵) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی با وجود مدت مندرج فقرۀ (۲) این ماده و مهلت مندرج فقرۀ (۳) این ماده، از ارائه سند قابل اعتبار برای اثبات ملکیت خود بر زمین متصرفه، اظهار عجز نماید، هیئت تخنیکی تحقیقات املاکی را تکمیل و در صورت تشخیص و تثبیت زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی، دوسیۀ مربوط را ترتیب و غرض فیصله به کمیسیون ارائه نماید.

(٦) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی، اسناد ملکیت زمین متصرفه را ارائه کند مگر در اسناد ارائه شده از طرف وی شک، جعل و تزویر یا شک جعل و تزویر موجود باشد، هیئت تخنیکی بعد از انجام

ترسره کولو څخه وروسته، اړونده دوسیه ترتیب او د فیصلې په غرض دې کمېسیون ته وړاندې کړي.

(۷) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید د متصرفه ځمکې د ملکیت سندونه وړاندې کړي، تخنیکي هیئت مکلف دی د اړوندو سندونو او ځمکې په اړه خپلې څېړنې ترسره او اړونده دوسیه ترتیب او د فیصلې په غرض دې کمېسیون ته وړاندې کړي.

د غاصب یا غیرشرعي ذوالید نه حاضرېدل

لسمه ماده:

(۱) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید د دې طرزالعمل د اوومې او نهمې مادې د حکمونو له تطبیق سره سره، له موجه عذر پرته په ټاکلې موده کې اړوندې مرجع ته له حضور څخه ډډه وکړي، تخنیکي هیئت مکلف دی د املاکي تحقیقاتو له بشپړولو څخه وروسته دوسیه ترتیب او د فیصلې په غرض دې کمېسیون ته وړاندې

تحقیقات املاکی، دوسیهٔ مربوط را ترتیب و غرض فیصله به کمیسیون ارائه نماید.

(۷) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی، اسناد ملکیت زمین متصرفه را ارائه کند، هیئت تخنیکی مکلف است تحقیقات خود در مورد اسناد مربوط و زمین را انجام و دوسیهٔ مربوط را ترتیب و غرض فیصله به کمیسیون ارائه نماید.

عدم حضور غاصب یا ذوالید غیر شرعی

مادهٔ دهم:

(۱) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی با وجود تطبیق احکام مادهٔ هفتم و نهم این طرزالعمل، از حضور به مرجع مربوط در مدت معین بدون عذر موجه خودداری کند، هیئت تخنیکی مکلف است، بعد از تکمیل تحقیقات املاکی، دوسیه را ترتیب و غرض فیصله به کمیسیون ارائه

کړي.

(۲) که غاصب یا غیرشرعي ذوالیـد د املاکي تحقیقاتو د پیل پرمـهال حاضر خو د املاکي تحقیقـاتو پـه جریان کې غایب شي، په اړه یـې د دې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم اجراآت کېږي.

پر غصب شوې ځمکې باندې د غاصب یا غیرشرعي ذوالیـد د نویو تصرفاتو درول

یوولسمه ماده:

که ځمکه د تخنیکي هیئت لهخوا تـر څېړنې لاندې ونیول شـوه، اړونـد تخنیکي هیئت دې پر یادې ځمکـې باندې د غاصب یا غیرشرعي ذوالیـد نوي تصرفات، د کمېسیون تر فیصلې پورې، ودروي.

د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیول

دولسمه ماده:

(۱) که د تخنیکي هیئـت لـهخـوا غاصب یا غیرشرعي ذوالید پر امارتي نماید.

(۲) هرگـاه غاصـب یـا ذوالیـد غیر شرعی، حین آغـاز تحقیقـات املاکی حاضر بوده مگر در جریـان تحقیقات املاکی غایـب شـود، در مورد وی مطابق حکم فقرۀ (۱) ایـن ماده اجراآت می‌شود.

توقف تصرفات جدید غاصب یا ذوالید غیر شـرعی بـر زمـین غصب شده

مادۀ یازدهم:

هرگاه زمین از طرف هیئت تخنیکـی تحت بررسی قرار گرفـت، هیئـت تخنیکی مربوط، تصـرفات جدیـد غاصب یا ذوالید غیرشـرعی را بـر زمین مذکور تا فیصـلۀ کمیسـیون، متوقف نماید.

تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی

مادۀ دوازدهم:

(۱) هرگـاه غاصـب یـا ذوالیـد غیر شرعی از تصرفات بر زمین‌هـای

(حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکو باندې له تصرفاتو څخه منع کړل شي، خو بیا هم خپلو تصرفاتو ته دوام ورکړي، د نومورې نوي تصرفات قلع او د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیولو په اړه، د دې مادې له حکمونو سره سم تصمیم نیول کېږي.

(۲) تخنیکي هیئت کولای شي، په ولایتونو کې تر درېیو ورځو پورې د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیولو په اړه، تصمیم ونیسي.

(۳) که د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیول د دې مادې په (۲) فقره کې له درج شوې مودې څخه زیات لازم وګڼل شي، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیولو د مودې د تمدید وړاندیز

امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی از طرف هیئت تخنیکی منع شود، مگر بازهم به تصرفات خود ادامه دهد، تصرفات جدید مذکور قلع و در مورد تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی، مطابق احکام این ماده، تصمیم اتخاذ می‌گردد.

(۲) هیئت تخنیکی می‌تواند، در ولایات تا سه روز، در مورد تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی، تصمیم اتخاذ نماید.

(۳) هرگاه تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی از مدت مندرج فقرۀ (۲) این ماده بیشتر لازم دانسته شود، پیشنهاد تمدید مدت تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی، به کمیسیون

کمېسیون ته، وړاندې کېږي.

(۴) کمېسیون کولای شي، په مرکز او ولایتونو کې تر لسو ورځو پورې د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیولو په اړه، تصمیم ونیسي.

(۵) که د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې نیول د دې مادې په (۴) فقره کې له درج شوې مودې څخه زیات لازم وګڼل شي، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید تر توقیف لاندې د نیولو د مودې تمدید، د اختصاصي محکمې په حکم صورت مومي.

(٦) په مرکز او ولایتونو کې د کورنیو چارو وزارت او د زندانونو چارو د تنظیم اداره مکلفه ده، د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي ځمکې غاصب یا غیرشرعي ذوالید چې د کمېسیون یا

ارائه می‌گردد.

(۴) کمیسیون می‌تواند، در مرکز و ولایات تا ده روز، در مورد تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی، تصمیم اتخاذ نماید.

(۵) هرگاه تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی، از مدت مندرج فقرهٔ (۴) این ماده بیشتر لازم دانسته شود، تمدید مدت تحت توقیف قراردادن غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی، به حکم محکمهٔ اختصاصی صورت می‌گیرد.

(٦) وزارت امور داخله و ادارهٔ تنظیم امور زندان‌ها در مرکز و ولایات مکلف اند، غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی را که توسط کمیسیون یا هیئت تخنیکی،

د تخنيکي هيئت په واسطه د تر توقيف لاندې نيولو په غرض ورپېژندل کېږي، تسليم او وساتي.

پر غصب شوې ځمکې باندې د غاصب يا غيرشرعي ذوالېد د تصرفاتو له درولو سره سره بيا تصرف کول

ديارلسمه ماده:

(۱) که د دې طرزالعمل د دولسمې مادې د حکمونو له تطبيق سره سره بيا هم غاصب يا غيرشرعي ذوالید او يا يې عرفي نماينده پر امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او يا وقفي ځمکو باندې خپلو تصرفاتو ته ادامه ورکړي، تخنيکي هيئت دې موضوع کمېسيون ته وړاندې کړي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې په درج شوي حالت کې کمېسيون کولای شي له احوالو سره سم، له غاصب يا غيرشرعي ذوالید څخه د يادې ځمکې د تخليې په اړه تصميم ونيسي.

غرض تحت توقیف قرارداده معرفی می‌شود، تسلیم و نگهداری نمایند.

تصرف مجدد بر زمین غصب شده باوجود توقف تصرفات غاصب یا ذوالید غیر شرعی

مادۀ سیزدهم:

(۱) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی و یا نمایندۀ عرفی وی با وجود تطبیق احکام مادۀ دوازدهم این طرزالعمل، بازهم به تصرفات خود بر زمین‌های امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی ادامه دهد، هیئت تخنیکی موضوع را به کمیسیون ارائه نماید.

(۲) کمیسیون در حالت مندرج فقرۀ (۱) این ماده می‌تواند، مطابق احوال در مورد تخلیۀ زمین مذکور از غاصب یا ذوالید غیر شرعی، تصمیم اتخاذ نماید.

دوهم فصل
کمپسیون ته د دوسیې له وړاندې کولو څخه وروسته اجراآت

د کمپسیون د فیصلې ابلاغ

څوارلسمه ماده:

تخنیکي هیئت مکلف دی، د کمپسیون د فیصلې له رسېدلو څخه وروسته، تر دربیو کاري ورځو پورې غاصب یا غیرشرعي ذوالید احضار او د کمپسیون فیصله هغه ته ابلاغ کړي.

د کمپسیون د فیصلې تطبیق

پنځلسمه ماده:

(۱) تخنیکي هیئت مکلف دی، د کمپسیون د فیصلې له رسېدلو څخه وروسته، په هغه صورت کې چې غاصب یا غیرشرعي ذوالید پر یاده فیصله باندې قناعت ولري، تر (۱۰) کاري ورځو پورې هغه تطبیق کړي.

د دې طرزالعمل په څوارلسمه ماده

فصل دوم
اجراآت بعد از ارائه دوسیه به کمیسیون

ابلاغ فیصلهٔ کمیسیون

مادهٔ چهاردهم:

هیئت تخنیکی مکلف است، بعد از رسیدن فیصلهٔ کمیسیون تا سه روز کاری، غاصب یا ذوالید غیر شرعی را احضار و فیصلهٔ کمیسیون را به وی ابلاغ نماید.

تطبیق فیصلهٔ کمیسیون

مادهٔ پانزدهم:

(۱) هیئت تخنیکی مکلف است، بعد از رسیدن فیصلهٔ کمیسیون، در صورتی‌که غاصب یا ذوالید غیر شرعی بر فیصلهٔ مذکور قناعت داشته باشد، تا (۱۰) روز کاری آنرا تطبیق نماید. مدت مندرج مادهٔ چهاردهم این

کې درج شوې موده په دې موده کې شامله ده.

(۲) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید د کمېسیون پر فیصله باندې قناعت ونه لري، تخنیکي هیئت دې د دې طرزالعمل د اوولسمې مادې د (۱) فقرې له حکم سره سم د موضوع په اړه اجراآت وکړي.

(۳) که د کمېسیون فیصله د لسو کاري ورځو په ترڅ کې د تطبیق وړ نه وي او یا غاصب یا غیرشرعي ذوالید د ضرورتونو پر بنا د ځمکې د تخلیې او تسلیمۍ لپاره مهلت وغواړي، غاصب یا غیرشرعي ذوالید کولای شي خپله عریضه کمېسیون ته وړاندې کړي.

(۴) د دې مادې د (۳) فقرې په درج شوي حالت کې، کمېسیون کولای شي غاصب یا غیرشرعي ذوالید ته مهلت ورکړي.

(۵) تخنیکي هیئت مکلف دی، د غاصب یا غیرشرعي ذوالید د قناعت او یا هم د نه قناعت په صورت کې

طرزالعمل، در این مدت شامل می‌باشد.

(۲) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی بر فیصلهٔ کمیسیون قناعت نداشته باشد، هیئت تخنیکی در مورد موضوع مطابق حکم فقرهٔ (۱) مادهٔ هفدهم این طرزالعمل، اجراآت نماید.

(۳) هرگاه فیصلهٔ کمیسیون در جریان ده روز کاری قابل تطبیق نباشد و یا غاصب یا ذوالید غیر شرعی بنابر ضرورت برای تخلیه و تسلیمی زمین مهلت بخواهد، غاصب یا ذوالید غیر شرعی می‌تواند عریضهٔ خود را به کمیسیون ارائه نماید.

(۴) در حالت مندرج فقرهٔ (۳) این ماده، کمیسیون می‌تواند به غاصب یا ذوالید غیر شرعی مهلت بدهد.

(۵) هیئت تخنیکی مکلف است، در صورت قناعت و یا هم عدم قناعت غاصب یا ذوالید غیر شرعی، گزارش

د کمېسيون د فيصلې د تطبيق راپور تر اوو کاري ورځو پورې کمېسيون ته واستوي.

(٦) د دې طرزالعمل په پنځمه ماده کې درج شوې مراجع مکلفې دي، د کمېسيون د فيصلې په تطبيق کې له تخنيکي هيئت سره د پنځمې مادې د حکم مطابق اجراآت وکړي.

د کمېسيون په فيصله قناعت

شپاړسمه ماده:

(۱) که غاصب يا غيرشرعي ذوالید د کمېسيون په فيصله قناعت ولري، تخنيکي هيئت دې له هغه څخه کتبي تعهد واخلي چې د فيصلې په تطبيق کې خنډ نه رامنځته کوي.

(۲) که غاصب يا غيرشرعي ذوالید د کمېسيون په فيصله قناعت وکړي خو اعذار ولري، کولای شي خپله عريضه د ضرورتونو په مشخص کولو سره کمېسيون ته وړاندې کړي.

(۳) که غاصب يا غيرشرعي ذوالید زورواکی شخص نه وي، کمېسيون تطبيق فيصلهٔ کميسيون را تا هفت روز کاری به کميسيون ارسال نمايد.

(٦) مراجع مندرج در مادهٔ پنجم اين طرزالعمل مکلف اند، در تطبيق فيصلهٔ کميسيون با هيئت تخنيکی مطابق حکم مادهٔ پنجم، اجراآت نمايند.

قناعت به فيصلهٔ کميسيون

مادهٔ شانزدهم:

(۱) هرگاه غاصب يا ذوالید غير شرعی به فيصلهٔ کميسيون قناعت داشته باشد، هيئت تخنيکی از وی تعهد کتبی بگيرد که در تطبيق فيصله، مانع ايجاد نمی‌کند.

(۲) هرگاه غاصب يا ذوالید غير شرعی به فيصلهٔ کميسيون قناعت کند مگر اعذار داشته باشد، می‌تواند عريضهٔ خود را با مشخص کردن ضرورت‌ها، به کميسيون ارائه نمايد.

(۳) هرگاه غاصب يا ذوالید غير شرعی شخص زورمند نباشد،

کولای شي د غاصب یا غیرشرعي ذوالید ضرورتونو ته په کتو او د دې مادې د (۱) فقرې په رعایتولو سره هغه ته د ځمکې د اجارې یا د موضوع په هکله بل لازم تصمیم ونیسي او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی مقام ته دې وړاندې کړي.

د کمېسیون په فیصله نه قناعت

اوولسمه ماده:

(۱) که غاصب یا غیرشرعي ذوالید او یا بل شخص د کمېسیون په فیصله قناعت ونه کړي، موضوع دې د کمېسیون لهخوا اړوندې اختصاصي محکمې ته محول شي.

(۲) وزارتونه او نورې امارتي ادارې نه شي کولای، د کمېسیون د فیصلې او د تخنیکي هیئت د اجراآتو په اړه، شکایات واخلي او یا له هغوی څخه استعلام وکړي.

کمیسیون می‌تواند با نظرداشت ضرورت‌های غاصب یا ذوالید غیر شرعی و با رعایت فقرۀ (۱) این ماده، اجارۀ زمین به وی یا در مورد موضوع تصمیم لازم دیگر را اتخاذ نموده و به مقام عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی ارائه نماید.

عدم قناعت به فیصلۀ کمیسیون

مادۀ هفدهم:

(۱) هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی و یا شخص دیگر به فیصلۀ کمیسیون قناعت نکند، موضوع از طرف کمیسیون به محکمۀ اختصاصی مربوط محول شود.

(۲) وزارت‌ها و سایر ادارات امارتی نمی‌توانند، در مورد فیصلۀ کمیسیون و اجراآت هیئت تخنیکی، شکایات را اخذ کنند و یا از آنها استعلام نمایند.

تخليه او تسليمي

اتلسمه ماده:

که د کمېسيون د فيصلې په پايله کې، ځمکه امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او يا وقفي تثبيت شي، د يادې ځمکې غاصب يا غيرشرعي ذوالید مکلف دی، هغه تخليه او تخنيکي هيئت ته يې وسپاري. په دې صورت کې تخنيکي هيئت استرداد شوې ځمکه اړوندې ادارې ته په رسمي ډول تسليموي.

د کمېسيون د فيصلې د تطبيق په وخت کې د غاصب يا غيرشرعي ذوالید غايب کېدل

نولسمه ماده:

که غاصب يا غيرشرعي ذوالید د املاکي تحقيقاتو د پيل او جريان په وخت کې حاضر وي خو د کمېسيون د فيصلې د تطبيق په وخت کې غايب شي، د کمېسيون فيصله د هغه په غياب کې تطبيقېږي.

تخلیه و تسلیمی

مادۀ هجدهم:

هرگاه در نتیجۀ فیصلۀ کمیسیون، زمین، امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی تثبیت شود، غاصب یا ذوالید غیر شرعی زمین مذکور مکلف است، آنرا تخلیه و به هیئت تخنیکی بسپارد. در این صورت، هیئت تخنیکی زمین استرداد شده را به‌طور رسمی به ادارۀ مربوط، تسلیم می‌نماید.

غایب شدن غاصب یا ذوالید غیر شرعی در وقت تطبیق فیصلۀ کمیسیون

مادۀ نزدهم:

هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی در وقت آغاز و جریان تحقیقات املاکی حاضر باشد، مگر در وقت تطبیق فیصلۀ کمیسیون غایب شود، فیصلۀ کمیسیون در غیاب وی تطبیق می‌شود.

دربيم فصل
د اختصاصي محکمې د قرار او فيصلې تطبيق

د قرار او فيصلې تطبيق

شلمه ماده:

(۱) تخنيکي هيئت مکلف دی، د اختصاصي محکمې قرار او فيصله له رسېدلو څخه وروسته، تطبيق کړي.

(۲) که غاصب يا غيرشرعي ذوالېد د ضرورتونو پر بنا د ځمکې د تخليې او تسليمۍ لپاره مهلت وغواړي، غاصب يا غيرشرعي ذوالید کولای شي خپله عريضه کمېسيون ته وړاندې کړي.

(۳) د دې مادې د (۲) فقرې په درج شوي حالت کې، کمېسيون کولای شي غاصب يا غيرشرعي ذوالید ته مهلت ورکړي.

(۴) د دې طرزالعمل په پنځمه ماده کې درج شوې مراجع مکلفې دي، د اختصاصي محکمو د قرارونو او

فصل سوم
تطبيق قرار و فيصلۀ محکمۀ اختصاصی

تطبيق قرار و فيصله

مادۀ بيستم:

(۱) هيئت تخنيکی مکلف است، قرار و فيصلۀ محکمۀ اختصاصی را بعد از رسيدن، تطبيق نمايد.

(۲) هرگاه غاصب يا ذوالید غير شرعی بنابر ضرورت‌ها برای تخليه و تسليمی زمين مهلت بخواهد، غاصب يا ذوالید غير شرعی می‌تواند عريضۀ خود را به کميسيون ارائه نمايد.

(۳) در حالت مندرج فقرۀ (۲) اين ماده، کميسيون می‌تواند به غاصب يا ذوالید غير شرعی مهلت بدهد.

(۴) مراجع مندرج مادۀ پنجم اين طرزالعمل مکلف اند، در تطبيق قرارها و فيصله‌های محاکم

فیصلو په تطبیق کې له تخنیکي هیئت سره د پنځمې مادې د حکم مطابق اجراآت وکړي.

د محکمې له حکم څخه تمرد

یوویشتمه ماده:

(۱) که محکوم علیه د هغې ځمکې تخلیې او تسلیمۍ ته حاضر نه وي چې د اختصاصي محکمي د فیصلې پراساس امارتي (حکومتي)، عامه مرعي او یا وقفي تثبیت شوې وي، د اختصاصي محکمې د فیصلې تطبیق د کمیسیون له هدایت سره سم د جبري تنفیذ له لارې صورت مومي.

(۲) که محکوم علیه د دې مادې په (۱) فقره کې د ذکر شوي جبري تنفیذ ممانعت وکړي او یا د هغه تطبیق اخلال کړي، متمرد پېژندل کېږي.

(۳) متمرد محکوم علیه مجرم دی، د کمیسیون په واسطه د اړوند زون اختصاصي محکمې ته ورپېژندل کېږي.

تمرد از حکم محکمه

مادۀ بیست و یکم:

(۱) هرگاه محکوم علیه به تخلیه و تسلیمی زمینی که بر اساس فیصلۀ محکمۀ اختصاصی، امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی تثبیت شده باشد، حاضر نباشد، تطبیق فیصلۀ محکمۀ اختصاصی مطابق هدایت کمیسیون از طریق تنفیذ جبری صورت می‌گیرد.

(۲) هرگاه محکوم علیه تنفیذ جبری مذکور در فقرۀ (۱) این ماده را ممانعت کند و یا تطبیق آنرا اخلال نماید، متمرد شناخته می‌شود.

(۳) محکوم علیه متمرد مجرم است، توسط کمیسیون به محکمۀ اختصاصی زون مربوط معرفی می‌شود.

د اختصاصي محکمې د فيصلې د تطبيق په وخت کې د غاصب يا غيرشرعي ذواليد غايب کېدل

دوه ويشتمه ماده:

که غاصب يا غيرشرعي ذواليد د املاکي تحقيقاتو په پيل او يا يې په جريان يا د کمېسيون له‌خوا د فيصلې په وخت کې حاضر، خو د اختصاصي محکمې د فيصلې د تطبيق په وخت کې غايب شي، د اختصاصي محکمې فيصله د هغه په غياب کې تطبيقېږي.

دوهم باب

متفرقه حکمونه

د اختصاصي محکمې د فيصلې نهايي‌والی

درويشتمه ماده:

د اختصاصي محکمې فيصله نهايي ده، اختصاصي محکمه نه شي کولای چې په عين موضوع کې له خپلې فيصلې څخه وروسته د محکوم عليه

غایب شدن غاصب یا ذوالید غیر شرعی در وقت تطبیق فیصلهٔ محکمهٔ اختصاصی

مادهٔ بیست و دوم:

هرگاه غاصب یا ذوالید غیر شرعی در آغاز تحقیقات املاکی و یا در جریان آن یا در وقت فیصله از طرف کمیسیون حاضر بوده، مگر در وقت تطبیق فیصلهٔ محکمهٔ اختصاصی غایب شود، فیصلهٔ محکمهٔ اختصاصی در غیاب وی تطبیق می‌گردد.

باب دوم

احکام متفرقه

نهایی بودن فیصلهٔ محکمهٔ اختصاصی

مادهٔ بیست و سوم:

فیصلهٔ محکمهٔ اختصاصی نهایی است، محکمهٔ اختصاصی نمی‌تواند که در عین موضوع بعد از فیصلهٔ خود، شکایت محکوم علیه را

شکایت واخلي یا یې په اړه اجـــراآت وکړي.

د فیصلې په تطبیق کې د مداخلې عواقب

څلور ویشتمه ماده:

(۱) که امارتي مسئول د کمېسیون د فیصلې د تطبیق مانع شي، عمل یـــې جرم دی او کمېسیون مکلف دی، یاد شـــخص اړونـــدې محکمـــې تـــه وروپېژني.

(۲) که امارتي مسئول یا بل شخص د امارتي (حکومتي)، عامـــه مرعـــی او وقفي ځمکو له غاصبینو څخـــه پـــه مستقیم او یا غیرمستقیم شکل ملاتـــړ وکړي، عمل یې جرم او کمېســـیون مکلف دی، هغه اړوندې محکمې تـــه وروپېژني.

(۳) که د تحقیقاتو په پایله کې ثابتـــه شي چې امارتي مسئول (دربـــیم او د دې معادل او له هغه څخه ټیټ منزله شخص) له لاندې اعمالو څخه د یـــو مرتکب شوی وي، هغه د کمېســـیون بگیرد یـــا در مـــورد آن اجـــراآت نماید.

عواقب مـــــــداخله در تطبیق فیصله

مادۀ بیست و چهارم:

(۱) هرگاه مسئول امارتی، مانع تطبیق فیصلۀ کمیسیون شود، عمل وی جرم است و کمیسیون مکلـــف اســـت، شخص مذکور را به محکمۀ مربـــوط معرفی نماید.

(۲) هرگاه مسئول امارتی یا شـــخص دیگر از غاصبین زمین‌هـــای امـــارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی بـــه شکل مستقیم و یـــا غیـــر مســـتقیم حمایت کند، عمل وی جرم بـــوده و کمیسیون مکلف اســـت، وی را بـــه محکمۀ مربوط معرفی نماید.

(۳) هرگاه در نتیجۀ تحقیقات ثابـــت شود که مسئول امارتی (شخص منزلۀ سوم یا معادل آن و یا پایین‌تـــر از آن) مرتکب یکی از اعمال ذیـــل شـــده باشد، وی به تجویز کمیسیون توسط

په تجويز او د اړونـدې ادارې پـه واسطه له وظيفې څخه ګوښه کېږي:

۱- د اختصاصي محکمې د قـرار او فيصلې له تطبيق څخه ډډه کول؛

۲- د کمېسيون د فيصلې له تطبيـق څخه ډډه کول؛

۳- د اختصاصي محکمې د قـرار او فيصلې په تطبيـق کـې د خنـډونو رامنځته کول؛

۴- د کمېسيون د فيصلې په تطبيـق کې د خنډونو رامنځته کول؛

۵- له غاصبينو څخه مستقيم او يـا غيرمستقيم ملاتړ.

(۴) که د دې مادې په درج شـويو حالتونو کې امارتي مسـئول وزيـر، معين، د مستقلو ادارو عمومي رئيس او يا د مستقلو ادارو معاونين، واليان، د ولايتونو امنيه قومندانان، د لومړۍ او دوهمې منزلې رئيسان، ولسـوالان او يا د دې معادل منزلـه لرونکـي اشخاص وي، کمېسيون د موضـوع په اړه راپور ترتيـب او د عاليقـدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالى مقام تـه

ادارۀ مربـوط از وظيفـه برکنـار می‌شود:

۱- خودداری از تطبيق قرار و فيصلۀ محکمۀ اختصاصی؛

۲- خـودداری از تطبيـق فيصـلۀ کميسيون؛

۳- ايجـاد موانـع در تطبيـق قـرار و فيصـلۀ محکمـۀ اختصاصی؛

۴- ايجاد موانع در تطبيـق فيصـلۀ کميسيون؛

۵- حمايت مستقيم يا غير مستقيم از غاصبين.

(۴) هرگاه مسئول امارتی در حالات مندرج اين ماده، وزير، معين، رئـيس عمومی ادارات مستقل و يا معاونـان ادارات مستقل، واليان، قومانـدانان امنيۀ ولايات، رئيسان منزلـۀ اول و دوم، ولسوالان و يا اشـخاص دارای منزلۀ معادل آنان باشند، کميسيون در مورد موضوع گزارش ترتيب نموده و آنرا به مقام عاليقـدر اميرالمـؤمنين حفظـه الله تعـالى ارائـه

يې وړاندې کوي.

د تخطي موارد

پنځه ويشتمه ماده:

(۱) د تخنيکي هيئت د رئيس او غړيو او د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او يا وقفي غصب شويو ځمکو د استرداد په جريان کې د ذيدخلو نورو امارتي کارکوونکو لهخوا د لاندې مواردو ارتکاب تخطي پېژندل کېږي:

۱- د غوښتل شويو سندونو، معلوماتو، دلايلو او مدارکو په وړاندې کولو کې تأخير؛

۲- د اړينو سندونو، معلوماتو، دلايلو او مدارکو په راټولولو کې بې پروايي؛

۳- د کمېسيون د فيصلې په تطبيق کې بې پروايي؛

۴- د بې طرفي د اصل نه رعايتول؛

۵- د تخنيکي هيئت غړيو ته د سندونو، معلوماتو او دلايلو د لاسرسي نه اجازه؛

می‌نماید.

موارد تخطی

مادۀ بیست و پنجم:

(۱) ارتکاب موارد ذیل از طرف رئیس و اعضای هیئت تخنیکی و سایر کارکنان امارتی ذیدخل در جریان جلوگیری از غصب زمین‌ها و استرداد زمین‌های غصب شدۀ امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی، تخطی شناخته می‌شود:

۱- تأخیر در ارائه اسناد، معلومات، دلایل و مدارک مطالبه شده؛

۲- سهل انگاری در جمع‌آوری اسناد، معلومات، دلایل و مدارک ضروری؛

۳- سهل انگاری در تطبیق فیصلۀ کمیسیون؛

۴- عدم رعایت اصل بی‌طرفی؛

۵- عدم اجازۀ دسترسی اسناد، معلومات و دلایل به اعضای هیئت تخنیکی؛

٦- نور هغه موارد چې د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او یا وقفي ځمکو د تشخیص او تثبیت په جریان او یا د کمېسیون د فیصلې په تطبیق کې د تأخیر سبب شي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو تخطیو مرتکبین له احوالو سره سم د کمېسیون په تجویز او د اړوندې ادارې په واسطه تأدیبېږي.

جرمي موارد

شپږ ویشتمه ماده:

(۱) د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي غصب شویو ځمکو د تشخیص او تثبیت په جریان کې د غاصب یا غیرشرعي ذوالید لهخوا د لاندې اعمالو ارتکاب جرم او مرتکب یې اړوندې محکمې ته ورپېژندل کېږي:

۱- تخنیکي هیئت یا کمېسیون ته د غلطو معلوماتو، د جعلي او یا تزویري سندونو وړاندې کول؛

۲- د سندونو، معلوماتو او دلایلو

٦- سایر مواردی که سبب تأخیر در جریان تشخیص و تثبیت زمین‌های امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و یا وقفی و یا تطبیق فیصلهٔ کمیسیون شود.

(۲) مرتکبین تخطی‌های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، مطابق احوال، به تجویز کمیسیون توسط ادارهٔ مربوط تأدیب می‌شوند.

موارد جرمی

مادهٔ بیست و ششم:

(۱) ارتکاب اعمال ذیل از طرف غاصب یا ذوالید غیر شرعی در جریان تشخیص و تثبیت زمین‌های غصب شدهٔ امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی جرم بوده و مرتکب آن به محکمهٔ مربوط، معرفی می‌گردد:

۱- ارائه معلومات غلط، اسناد جعلی و یا تزویری به هیئت تخنیکی یا کمیسیون؛

۲- پنهان کردن اسناد، معلومات

پټول او يا په هغو کې جعل يا تزوير کول؛

(۲) د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو د تشخيص او تثبيت په جريان کې د تخنيکي هيئت د رئيس يا غړيو له‌خوا د لاندې اعمالو ارتکاب جرم او مرتکب يې د کمېسيون له‌خوا اړوندې اختصاصي محکمې ته ورپېژندل کېږي:

۱- د ځمکو له غصب څخه د مخنيوي او د امارتي (حکومتي)، عامه مرعی او وقفي غصب شويو ځمکو د استرداد د قانون او په دې هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د فرمانونو او حکمونو په مغايرت سره د اجراآتو ترسره کول؛

۲- د هغو اسرارو افشاء کول چې د وظيفې له‌مخې هغه ته په واک کې ورکول شوي دي؛

۳- له غاصب يا غيرشرعي ذواليد سره همکاري او جوړ جاړی؛

۴- د سندونو، معلوماتو او دلايلو

و دلايل و يا جعل يا تزوير در آنها؛

(۲) ارتکاب اعمال ذيل از طرف رئيس يا اعضای هيئت تخنيکی در جريان تشخيص و تثبيت زمين‌های غصب شدۀ امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی جرم بوده و مرتکب آن از طرف کميسيون به محکمۀ اختصاصی مربوط، معرفی می‌گردد:

۱- انجام اجراآت در مغايرت با قانون جلوگيری از غصب زمين‌ها و استرداد زمين‌های غصب شدۀ امارتی (حکومتی)، مرعی عامه و وقفی و فرامين و احکام عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی در اين مورد؛

۲- افشای اسراری که بر اساس وظيفه در اختيار وی قرار داده شده است؛

۳- همکاری و سازش با غاصب يا ذواليد غير شرعی؛

۴- پنهان کردن اسناد، معلومات و

پټول یا د هغو تلف کول؛
۵- کمېسیون یا اختصاصي محکمې ته د واقعیت خلاف سندونو، معلوماتو او دلایلو وړاندې کول؛
۶- د نورو هغو مواردو ارتکاب چې د اسلامي شریعت له حکمونو سره سم جرم او بد اخلاقي ګڼل شوي وي.

د خاصې قطعې رامنځته کول

اووه ویشتمه ماده:

(۱) د افغانستان د ټولو ولایتونو په کچه دې د کمېسیون د فیصلو او د اختصاصي محاکمو د قرارونو او فیصلو د تطبیق په منظور، د کمېسیون په چوکاټ کې مجهزه خاصه قطعه رامنځته شي چې شمېر یې له (۲۵۰۰) تنو څخه کم نه وي.
(۲) خاصه قطعه مکلفه ده، د کمېسیون او تخنیکي هیئت له هدایت سره سم اجراآت وکړي.
(۳) د کورنیو چارو او دفاع وزارتونه او د استخباراتو عمومي ریاست

دلایل یا تلف کردن آنها؛
۵- ارائه اسناد، معلومات و دلایل خلاف واقعیت به کمیسیون یا محکمهٔ اختصاصی؛
۶- ارتکاب سایر مواردی که مطابق احکام شریعت اسلامی، جرم و بد اخلاقی دانسته شده باشد.

ایجاد قطعهٔ خاص

مادهٔ بیست و هفتم:

(۱) به‌منظور تطبیق فیصله‌های کمیسیون و قرارها و فیصله‌های محاکم اختصاصی به سطح تمام ولایات افغانستان، قطعهٔ خاص مجهز در چارچوب کمیسیون ایجاد شود که تعداد آن از (۲۵۰۰) تن کم نباشد.
(۲) قطعهٔ خاص مکلف است، مطابق هدایت کمیسیون و هیئت تخنیکی، اجراآت نماید.
(۳) وزارت‌های امور داخله و دفاع و ریاست عمومی استخبارات

مؤظف دي، د دې مادې په (۱) فقره کې د يادې شوې خاصې قطعې په رامنځته کولو کې، له کمېسيون سره هر اړخيزه همکاري وکړي.

(۴) د کورنيو چارو او دفاع وزارتونه او د استخباراتو عمومي رياست مؤظف دي، د کمېسيون له غوښتنې سره سم، له خاصې قطعې سره په اړوندو اجراآتو کې هر اړخيزه همکاري وکړي.

ارجحيت

اته ويشتمه ماده:

که د دې طرزالعمل حکم د نورو تقنيني سندونو له حکمونو سره په مغايرت کې قرار ونيسي، د دې طرزالعمل حکم ته ارجحيت ورکول کېږي.

تعديل يا لغوه

نهه ويشتمه ماده:

د دې طرزالعمل د حکمونو تعديل يا لغوه د تقنيني پراوونو له تېرولو څخه وروسته د عاليقدر اميرالمؤمنين موظف اند، در ايجاد قطعهٔ خاص مذکور در فقرهٔ (۱) اين ماده، با کميسيون همکاری همه جانبه نمايند.

(۴) وزارت‌های امور داخله و دفاع و رياست عمومی استخبارات موظف اند، مطابق درخواست کميسيون، با قطعهٔ خاص در اجراآت مربوط، همکاری همه جانبه نمايند.

ارجحيت

مادهٔ بيست و هشتم:

هرگاه حکم اين طرزالعمل با احکام ساير اسناد تقنينی در مغايرت قرار گيرد، به حکم اين طرزالعمل ارجحيت داده می‌شود.

تعديل يا لغو

مادهٔ بيست و نهم:

تعديل يا لغو احکام اين طرزالعمل بعد از طی مراحل تقنينی به حضور عاليقدر

حفظه الله تعالی حضور ته د منظوری لپاره وړاندې کېږي.

انفاذ او خپرول

دېرشمه ماده:

دغه طرزالعمل د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی لـــه‌خـــوا د منظوری له نېټې څخه نافـــذ او پـــه رسمي جریده کې دې خپور شي.

امیرالمـــؤمنین حفظـــه الله تعـــالی جهت منظوری ارائه می‌گردد.

انفاذ و نشر

مادۀ سی‌ام:

این طرزالعمل از تاریخ منظـــوری از طـــرف عالیقـــدر امیرالمـــؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوی هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی نافـــذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

کلنی ګډون

په مرکز او ولایتونوکې: (۱۵۰۰) افغانۍ

د امارت مامورینو لپاره: (۲۵) سلنه تخفیف

د تصدیق په وړاندې کولو سره د زده کوونکو او محصلینو لپاره، نیمه بیه

په مرکز او ولایتونو کې د کتاب پلورنځیو لپاره د رسمي جریدې پلورنه له

ټاکلې بیې څخه، (۱۰) سلنه تخفیف

له هېواده بهر: (۲۰۰) آمریکایي ډالر

اشتراک سالانه

در مرکز و ولایات: (۱۵۰۰) افغانی

برای مامورین امارت: با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

فروش جریده رسمی برای کتاب فروشی ها در مرکز و ولایات

با (۱۰) فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکایی

ISLAMIC EMIRATE
OF AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE

OFFICIAL
GAZETTE

Extraordinary Issue

Procedure for the Implementation of Decision of the Commission for the Prevention of Lands Usurpation and Restitution of Usurped Emirati Lands and of the Relevant Special Court

Date: 6th SEPTEMBER.2025
ISSUE NO:(1476)